بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۲۹ رمضان ۱۴۳۸هـ | ۲۴-۰٦-۲۰۱۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰۷

## مطبوعاتي اعلامیه

## حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان
## د زړه له کومي ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه فطر عید مبارکي وایي

حزب التحریر-ولایه افغانستان له کابل څخه تر جاکارتا، بیت المقدس، حلب او اسلامبول پورې د نړۍ په ګوټ-ګوټ کې ټول اسلامي امت ته دعا کوي ترڅو الله سبحانه وتعالی زموږ او ستاسو صیام، قیام، طاعات او عبادات ټول په خپل دربار کې قبول کړي.

د عید ورځې له خوښۍ، خوشالۍ، مینې او مهربانۍ څخه ډکې ورځې دي. مګر اوس د غیر اسلامي او طاغوتي نظامونو تر سیوري لاندې د مسلمانانو ژوند له جګړو، فتنو، فحشا، ذلت، سپکاویو او مقدساتو ته له توهین او ګمراهۍ څخه ډک شوی دی. لکه څنګه چې د افغانستان مسلمانان د امریکا د لاسپوڅي نظام تر سیوري لاندې هره ورځ د «بمونو د مور»، «ټانکر بمب»، پیاوړو چاودنو او د وینې زبېښونکو صلیبي ځواکونو د هوایي بمباریو قرباني کیږي او د خپلو زړونو ټوټې له لاسه ورکوي.

له دې سره-سره خلک په قصدي ډول قومي، مذهبي، ژبنیو، سمتي او سیمه ییزو رقابتونو ته ورټېل وهل کیږي. په داسې حال کې چې د امریکا او د هغې د لاسپوڅو له خوا د کورنیو اختلافونو پایلې په مراتبو د «بمونو د مور» له تلفاتو څخه ډېرې زیانمنوونکې دي. له همدې امله خلک د عید په نېکمرغه او مبارکو ورځو کې د خوشالۍ او مهربانۍ پر ځای د نفرت او نفاق موجونه تجربه کوي.

سره له دې، موږ د الله سبحانه وتعالی په رحمت باندې ټینګ او راسخ ایمان لرو، چې ډېر ژر به د خپلې مرستې او ملاتړ په واسطه په نړۍ کې د دویم راشده خلافت تر رهبرۍ لاندې بنسټیز تغییر راولي. د نړۍ اوسنی نظم چې ښاماران او ماران د انسان په جامه کې د انسانانو وینې او غوښې خوري را وپرځوي او د هغوی پر ځای به داسې عادل او محسن رهبران چې د غرباوو صفات به لري، په داسې زمانه کې چې نور خلک فساد کوي، هغوی به اصلاح ترسره کوي، د بشریت رهبري به پر غاړه واخلي او خلک به د غربي نظامونو له تیارو، جهالت او ظلم څخه د اسلام نور، هدایت او عدل ته را وباسي. څومره ژر ده هغه ورځ، مګر تیاره زړې هغه لیرې او ناممکنه ګڼي.

﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ الحج: ٤٠

قطعا الله سبحانه وتعالی د هغو کسانو ملاتړ کوي چې (د دین او عبادت ځایونو څخه د دفاع) له مخې د هغه ملاتړ کوي. له شک پرته الله سبحانه وتعالی ځواکمن او برلاسی دی.

**د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**